Australian Government
Department of Home Affairs

TRANSLATING AND INTERPRETING SERVICE

# ډیر ځلي پوښتل کیدونکي پوښتنې

پښتو

د تحریري او شفاهي ژباړې خدمت (TIS نیشنل) یو لړ ډیر ځلي پوښتل کیدونکي پوښتنې جوړې کړي دي چې موخه یې د هغه افرادو په ژبه د هغوی ځینې عام پوښتنو ته ځواب ورکول دي چې په انګلسي ژبه نه پوهیږي.

## TIS نیشنل کوم خدمتونه وړاندې کوي؟

TIS نیشنل هغه خلکو ته د ژباړې خدمات وړاندې کوي چې په انګلسي ژبه خبرې نشي کولی او همدارنګه هغه ادارو او سوداګریو ته هم خدمات وړاندې کوي چې د خپلو هغه مراجعه کونکو سره ارتباط نیسي کوم چې په انګلسي ژبه نشي غږیدلی،دا خدمتونه په انګلسي ژبه نه پوهیدونکي افرادو ته وړتیا ورکوي چې په خپلواک ډول په آسټریلیا کې خدماتو او معلوماتو ته لاسرسی ولري.

TIS نیشنل په ټوله آسټریلیا کې د 150 بیلابیل ژبو لپاره د 2500 څخه ډیرو ژباړونکو سره قرارداد کړی دی.

په انګلسي ژبه نه غږیدونکي خلک کولی شي 450 131 شمیرې ته زنګ وهلو په واسطه د TIS نیشنل له لارې سملاسي د تلیفون له لارې ژباړونکو ته لاسرسی پیدا کړي. همدارنګه، که چیرې تاسي کوم سازمان سره مستقیم اړیکه ونیسئ هغوی به ستاسي په استازیتوب ژباړونکي چمتو کړي.

## د TIS له لارې زه د چا سره اړیکه نیولی شم؟

د کورنیو چارو وزارت په شمول تر 60,000 سازمانونه او سازمانونه د TIS نیشنل سره راجستر دي. د TIS نیشنل ځینې نورو مراجعینو کې شامل دي:

- د دولت او فدرالي حکومت وزارتونه
- ځایی شوراګانې
- طبي او روغتیایی ډاکټران
- فارمیسیستان
- د ټولګټو شرکتونه
- د مخابراتو شرکتونه
- عاجل خدمتونه
- حقوقي خدمات
- د استوګنې او ټولنې خدمت وړاندې کونکې.

TIS د دې خبرې تضمین نشي کولی د کوم نهاد یا سازمان سره چې تاسي اړتیا لرئ اړیکه ونیسئ د TIS نیشنل لخوا د ژباړونکي د مرستې زنګ یا تلیفون قبول کړي

## زه کله TIS نیشنل ته تلیفون کولی شم؟

TISنیشنل د کال په هره ورځ کې د ژباړې 24 ساعته خدمات وړاندې کوي.

کوم نهاد یا سازمان سره چې تاسي اړیکه نیسئ ممکن یوازې د خپلو منظم رسمي ساعتونو پرمهال چوپړ کې وي، او رسمي کاري ساعتونه د بیلابیل نهادونو ترمینځ مختلف دي. په آسټریلیا کې ډیری سازمانونه او سازمانونه د دوشنبه څخه تر جمعې ورځې پورې معیاري کاري ساعتونو په جریان کې د سهار 9 بجو څخه تر مازیګر 5 بجو پورې کار کوي. ډیری سازمانونه او سازمانونه د عامه رخصتیو پرمهال چوپړتیا نلري.

# کله چې زه 131 450 ته تلیفون وکړم زه باید د څه شي تمه وکړم؟

1. په 450 131 شمیره TIS نیشنل ته تلیفون وکړئ. تاسي به د TIS نیشنل د محرمیت بیان واورئ.
2. له تاسي څخه به وپوښتل شي "تاسي د کومي ژبي ژباړونکی غواړئ"؟ خپله ژبه ورته ووایی.
3. له تاسي څخه به وپوښتل شي آیا تاسي د TIS نیشنل سوداګریز پیرودونکی یا مراجعه کونکی یې؟ تاسي باید "نه" وایی.
4. تاسي به په انګلسي ژبه غږیدونکي د TIS نیشنل تلیفون آپریټر ته راجع کړی شئ. د انتظار په جریان کي به تاسي پخپله ژبه واورئ "مهرباني وکړئ انتظار وکړئ موږ د تلیفون آپریټر سره اړیکه نیسو".
5. د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر به یوځل بیا ستاسي ژبه تایید کړي.
6. د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر به ژباړونکي ته تلیفون کولو لپاره تاسي په انتظار کي پرېږدي او تاسي به په خپله ژبه کي دا پیغام واورئ "مهرباني وکړئ انتظار وکړئ موږ د تلیفون آپریټر سره اړیکه نیسو".

- که چیرې ستاسي د ژبي ژباړونکی موجود وي، د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر به بیا د ژباړونکي سره تاسي سره اړیکه ونیسي او له تاسي څخه به پوښتنه وکړي چې د کوم نهاد یا سازمان سره اړیکه نیسئ.
  - o مهرباني وکړئ کله چې تاسي TIS نیشنل ته تلیفون کوئ نو د سازمان یا نهاد نوم، د هغوی د اړیکي شمیره او په سازمان یا نهاد کي ستاسي د مراجعه یا حساب شمیره (که موجود وي) د ځان سره چمتو ولرئ.
  - o ژباړونکی به د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر ته ووایی چې تاسي د چا سره اړیکه نیسئ او آپریټر به د تلیفون چاري پرمخ ویسي او تاسي او ژباړونکی به د هغه نهاد یا سازمان سره ونښلوي چې تاسي یې غوښتنه کړې ده.
- که ستاسي د ژبي ژباړونکی موجود نه وي، آپریټر به له تاسي څخه غوښتنه وکړي چې ژر وروسته بیا تلیفون وکړئ. که تاسي له یوې څخه په ډیرو ژبو خبرې کوئ، نو تاسي کولی شئ په بله ژبه کي د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.

# آیا د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر یا ژباړونکی سپارښتنه کولی شي چې زه د کوم نهاد سره باید وغږیږم؟

نه. د TIS نیشنل د تلیفون آپریټران باید بې پرې اوسي او نشي کولی سپارښتنه وکړي چې تاسي باید د کوم نهاد سره اړیکه ونیسئ. کله چې تاسي د ژباړونکي سره ونښلول شوئ، ژباړونکی نشي کولی تاسي سره غیر رسمي خبرې وکړي ځکه چې هغوی د ژباړې ټولو دندو پرمهال باید بې پرې اوسي.

مهرباني وکړئ کله چې تاسي TIS نیشنل ته تلیفون کوئ نو د سازمان یا نهاد نوم، د هغوی د اړیکي شمیره او په سازمان یا نهاد کي ستاسي د مراجعه یا حساب شمیره (که موجود وي) د ځان سره چمتو ولرئ.

# زه باید څه وکړم که چیرې زه هغه ژباړونکی وپیژنم چې زه ورسره ونښلول شوی یم؟

که تاسي پدې پوهه شئ چې ژباړونکی پیژنئ، نو دا پریکره تاسي پخپله کولی شئ چې آیا د ژباړې لړۍ ته ادامه ورکړئ که نه. که تاسي نه غواړئ د همدغه ژباړونکي سره ادامه ورکړئ، نو د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر یا نهاد ته ووایی او تلیفون پرې کړئ.

# آیا زه د نارینه یا ښځینه ژباړونکي غوښتنه کولی شم؟

هو. که تاسي د کوم ځانګړي جنسیت ژباړونکي ته ترجیح ورکوئ، نو هرځومره ژر چې ممکن وي د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر یا هغه نهاد ته ووایی چې تاسي ورسره اړیکه نیسئ. TIS نیشنل به هڅه وکړي چې ستاسي د غوښتل شوي جنسیت ژباړونکی وړاندې کړي.

# آیا زه کولی شم د ځانګړي مذهب یا کلتوري شالید لرونکي ژباړونکي غوښتنه وکړم؟

نه. د TIS نیشنل د تلیفون آپریټران ژباړونکو ته د هغوی د تحریري او شفاهي ژباړونکو د اعتبار ملي ادارې (NAATI) (https://www.naati.com.au/) د تصدیق پاڼې (وړتیا) د سطحې او موجودیت پربنسټ دندې ورکوي ترڅو ډاډ لاسته راوړي چې تاسي خورا وړ موجود ژباړونکي ته لاسرسی ولرئ. TIS نیشنل نشي کولی د کلتوري شالید یا مذهب پر اساس ژباړونکی په کار وګوماري.

## زه ترجیح ورکووم مخامخ یا شخصاً حضور لرونکی ژباړونکی وکاروم. آیا دا امکان لري؟

هو. TIS نیشنل په ساحه کي مخامخ د ژباړې خدمات وړاندې کوي. که تاسې په ساحه کي مخامخ ژباړونکي ته اړتیا لرئ، نو تاسې باید د تلیفون له لارې ژباړونکي په کارولو سره د TIS نیشنل له لارې د هغه نهاد سره اړیکه ونیسئ چې غواړئ خبرې ورسره وکړئ او له هغوی څخه وغواړئ چې ستاسې لپاره په ساحه کي د مخامخ شخصاً موجود ژباړونکي خدمات برابر کړي.

## زه غواړم عاجل خدماتو سره اړیکه ونیسم. زه باید څه وکړم؟

که تاسې غواړئ عاجل امبولانس، پولیسو یا د اطفایه خدماتو سره اړیکه ونیسئ تل مستقیم 000 ته تلیفون وکړئ. د 000 عاجل خدماتو لیکه به TIS نیشنل ته تلیفون وکړي او د کال هرې ورځې، په ورځ کي 24 ساعته لومړیتوب لیکي په کارولو سره به تاسې د یوه ژباړونکي سره وصل کړي.

## آیا د TIS نیشنل خدمات په انګلسي ژبه نه غږیدونکي افرادو لپاره وړیا دي؟

هو. د TIS نیشنل خدماتو ډیری یې په انګلسي ژبه نه غږیدونکي خلکو لپاره وړیا دي. عموماً هغه نهاد یا سازمان چې تاسې ورسره اړیکه نیسئ د خدمت لګښتونه په غاړه اخلي. ځیني سازمانونه او طبي ډاکټران د TIS نیشنل له لارې د وړیا ژباړې مستحق دي.

ځیني سازمانونه ممکن د TIS نیشنل لخوا تلیفون کول قبول نکړي، په هرصورت که چیرې تاسې د نهاد سره مستقیم اړیکه ونیسئ نو هغوی ممکن وکولی شي د تلیفون له لارې ژباړونکي سره تاسې ته بیرته تلیفون وکړي.

که تاسې غواړئ داسې یوه نهاد سره اړیکه ونیسئ چې د TIS نیشنل مراجعه کونکی یا پیرودونکی ندی او سازمان نه غواړي د خدمت لګښت په غاړه واخلي، نو تاسې کولی شئ شخصي حساب رامینځته کړئ او پخپله د خدمت لپاره تادیه ورکړئ. د دې کار لپاره ژباړونکي ته وواییی او د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر به حساب جوړولو کي تاسې سره مرسته وکړي. د شخصي حساب جوړولو لپاره تاسې کریډیټ کارت ته اړتیا لرئ.

## آیا زه کولی شم د TIS نیشنل له لارې د اسنادو ژباړه ترلاسه کړم؟

نه. TIS نیشنل د اسنادو تجارتي ژباړې خدمت نه وړاندې کوي.

د کورنیوچارو وزارت Home Affairs د هغه خلکو لپاره د اسنادو وړیا ژباړې خدمت وړاندې کوي چې د تل لپاره په آسټرلیا کي میشتیږي. دایمي اوسیدونکي او د لندمهالي انتخابي یا مشروط ویزې درلودونکي کولی شي په شرایطو برابر ویزې نیټې څخه تر لومړیو دوه کلونو پورې په شرایطو برابر د لس اسنادو انګلسي ژبې ته ژباړه ترلاسه کړي.

د ژباړې وړیا خدمت په اړه نور معلومات د Home Affairs Website ویب پاڼې https//translating.homeaffairs.gov.au/en کي شتون لري.

تاسې کولی شئ د تحریري او شفاهي ژباړونکو د اعتبار یا تصدیق ملي اداری (NAATI) (https://www.naati.com.au/) سره اړیکه نیولو له لارې د ژباړې نورو انتخابونو په اړه معلومات ومومئ.

## آیا تاسې داسې سرچینې وړاندې کوئ چې د تلیفون له لارې ژباړونکي ته لاسرسي کې زما سره مرسته کولی شي؟

هو. TIS نیشنل بیلابیل ژباړل شوي سرچیني وړاندې کوي ترڅو په انګلسي ژبه نه غږیدونکي افرادو سره مرسته وکړي چې ژباړونکی ته لاسرسی ومومي. په انګلسي ژبه نه غږیدونکي افرادو لپاره موجود سرچیني د هڅونکي موادو کتلاګ (https://www.tisnational.gov.au/About-TIS-National/Materials-to-help-you-access-an-interpreter) کي وګورئ.

## آیا TIS نیشنل ګټورې ویډیوګانې لري؟

هو. TIS نیشنل زموږ خدماتو کارولو لپاره د مراجعینو سره مرستې لپاره ښوونیزې ویډیوګانې (https://www.tisnational.gov.au/Help-using-TIS-National-services/Videos/New-Standard-page-base.aspx) تولید کړې دي.

## د TIS نیشنل د ژباړونکي رول څه دی؟

د ژباړونکي رول ستاسې په ژبه د خبرو پرمهال ویل شوي ټکو د امکان تر حد پورې صحیح ژباړل دي.

ژباړونکي مشوره نه ورکوي او د TIS نیشنل د تلیفون آپریټر یا هغه شخص چې تاسې ورسره خبرې کوئ د هغوی لخوا غوښتل شوي پوښتنو پرته نورې پوښتنې باید ونکړي.

د TIS نیشنل ژباړونکي د کلک اخلاقي مقرراتو مقید دي. دغه مقررات د هغوی مسلکي چلند اداره کوي او بیلابیل مکلفیتونه د پوښښ لاندې لري چې پدغو کې شامل دي:

- مسلکي چلند
- محرمیت
- وړتیا
- بې پریتوب
- دقت
- د نقش د حدونو روښانتیا
- د مسلکي اړیکو ساتل
- مسلکي پراختیا
- مسلکي یووالی.

د دستورې مقرراتو په اړه نور معلومات د Australian Institute of Interpreters and Translators (AUSIT) website (https://ausit.org/code-of-ethics/) پاڼه کې وګورئ

## زه څنګه یو ژباړونکی باید په ډېر موثر ډول وکاروم؟

تاسې کولی شئ د لاندې چارو له مخې د TIS نیشنل ژباړونکی په ډېر موثر ډول وکاروئ:

- TIS نیشنل ته د تلیفون کولو څخه مخکې د خپل تلیفون لپاره اړین ټول معلومات چمتو کړئ
- د بیاځل خبرې کولو څخه مخکې صبر وکړئ او انتظار وباسئ چې ژباړونکی خبرې ختمې کړي
- لنډې جملې وکاروئ
- عامیانه ټکي یا کومه ځانګړې لهجه مه کاروئ څکه چې ممکن ژباړه یې مشکل اوسي
- د ژباړونکي رول باندې پوهه شئ
- د ژباړونکي څخه غوښتنه مه کوئ چې مشوره درکړي یا ستاسې وکالت وکړي
- که تاسې د ژباړونکي په خبرو پوهیدلو کې مشکل لرئ نو سمدلاسه ژباړونکی، نهاد یا TIS نیشنل خبر کړئ.

## زه TIS نیشنل ته فیډبیک څنګه ورکولی شم؟

TIS نیشنل د کورنیوچارو په وزارت کې د ژبې د خدمت وړاندې کونکې دی. Global Feedback Unit (GFU) (https://www.homeaffairs.gov.au/help-and-support/departmental-forms/online-forms/complaints-coplements-and-suggestions) د ټولو اداره یې برخود فیډبیک یا وروستی نظر موندلو مرکزي ځای دی، دخدمتونوپه ګډون چې د TIS National لخوا وړاندې کیږي.

په TIS National کې مونږدخپل مشتریانو فیډبیک یا وروستی نظر ته ارزښت ورکوو، مونږسره دا مرسته کوي چې مونږخپل کاراصلاح اوکیفیت د ژباړلو خدمتونه لوړکړو کوم چې مونږ دولت، بزنسونو او ټولنې ته د اعتباري قیدوشرط له لارې، موثرې تمام شد قیمت اومطمینې ژبې خدمتونه وړاندې کړو.

د TIS National مشتریان د محدود یا انګریزي ژبې نه مهارت په لرلوکولی شي د TIS National خدمتونوپه هکله فیډبیک یا وروستی نظر آنلاین یا تلفون له لارې اړیکه وکړي. چې آنلاین فیډبیک یا وروستی نظرورکړي، لطفاً د وزارت Compliments, complaints and suggestions اداري ته لاس رسی وکړئ (https://www.homeaffairs.gov.au/help-and-support/departmental-forms/online-forms/complaints-compliments-and-suggestions). که تاسې ژباړونکي ته اړتیا لرئ، لطفاً TIS National ته په 450 131 شمیره کې اړیکه ونیسئ اوآپریټرته ووایې چې تاسې TIS National په هکله غواړئ فیډبیک یا وروستی نظرورکوئ. زمونږ آپریټربه ستاسې فید بیک یاد داشت اوهغه به د TIS National اړوند ټولګی ته د عملي کولود پاره وسپاري.

## زه غواړم د کورني تاوتريخوالي په اړه غږېدو لپاره يو ژباړونکی وکاروم. آيا داسې سرچينې شتون لري چې زما ملاتړ وکړي؟

د آسټريليا دولت د داخلي او کورني تاوتريخوالي، جنسي تيري او جبري واده، او د خونديتوب لپاره د ښځو د حقونو په تړاو د آسټريليا قوانينو په اړه د کورنۍ د خونديتوب معلوماتي بسته جوړه کړې ده. پدې بسته کې څلور حقيقت پاڼې او د کيسو ټولګه شامل ده، او ۴۶ ژبو ته ژباړل شوې ده. دا بسته د ټولنيزو خدماتو ويب پاڼه (https://www.dss.gov.au/family-safety-pack) کې شتون لري.

د کورنۍ د خونديتوب بستې ملتيا لپاره په کورني تاوتريخوالي حالتونو کې ژباړه (https://www.dss.gov.au/women-programs-services-reducing-violence-family-safety-pack/interpreting-in-domestic-violence-situations) اود ژباړونکو او کورنۍ خونديتوب (https://www.dss.gov.au/women-programs-services-reducing-violence-family-safety-pack/interpreters-and-family-safety) حقيت پاڼې دي چې موخه يې په کورنۍ تاوتريخوالي حالتونوکې د ژباړونکود رول او مسؤليت په اړه پوهاوی ډېرول دي.

## آيا زه شرطونوسره برابريم چې د انګريزۍ وړيا زدکړه وکړم؟

د Adult Migrant English Program مهاجرغټانود پاره د انګريزۍ زدکړې پروګرام (AMEP) free English language tuition وړيا انګريزی ژبې ګرځنده زده کړه چمتوکوي (https://immi.homeaffairs.gov.au/settling-in-australia/amep/about-the-program) شرطونوسره سم مهاجروته چې د هغوميشته کيدلو اوبرخه نيولوسره په آسټراليايي ټولنه کې مرسته وشي.

AMEP هغومهاجرود پاره شتون لري چې عمريې په کورنۍ کې د 18کلونوپورته وي، د مهارت او بشردوستانه ويزې لرونکې، کوم چې د دايمی ويزې اوهم ځيني لنډ مهاله ويزی لرونکې په ګډون. د شرطونوسره سم ويزې په تړاوچې د زده کړې توان ولری او همدا ډول د 15-17 کلونوعمرلرونکي مهاجر کولې شي په ځينوحالتونوکې برخه واخلې. هغه خلکودپاره چې کوچنيان يې د ښوونځۍ دعمرنه اخکته وي اوپخپله په عملی ډول په ټولګيوکې سبق وايې د کوچنيانو ساتنی په وړيا توګه شتون لرې.

AMEP د زده کړې پراخه بدلون ټاکنه لرې چې تاسي سره د انګريزی په زده کړه کې مرسته کوې، په ګډون د (COVID-safe) مخامخ ټولګی، آنلاين ټولګی، داوطلبانه ګرځنده تعليم ورکول tutor پلان اوفاصلې ساتلوزده کول. پوره وخت – نيمه وخت، شپې او ويکينډ weekend ټولګي به ممکن شتون ولرې دا تړاولری چې تاسي چيرته ژوند کوئ.

د وړيا انګريزې زده کړې د پاره چې څنګه يې پيل کړئ وپوهيږئ، خپله نږدې AMEP چمتوکونکي (https://immi.homeaffairs.gov.au/settling-in-australia/amep/service-providers) يا www.homeaffairs.gov.au/amep څخه کتنه وکړئ